داعیانوحدوث: داعیانوحدوث له دی وجهی نه دی چې اعیان دعین جمع ده اوعین هغه شی دی چې په خپل ذات کې قایم وی لکه اجسام اوپه دوی باندې تغیرات لکه حرکت اوسکون - راتلی شی اوهر هغه څیز چې دتغیراتو قبلولونکی وی حادث اوپیدا کړی شوی دی حُکه چې قدیم دحوادثو محل نه دی.

داعراضوحدوث:

داعراضوحدوث لهٔ وجهی نه دی چې اعراض دعرض جمع ده، اوعرض هغه شی دی چې قائم بالغیر وی لکه سپین والی اوتور والی اوپه دوی باندی عدم (نشتوالی) راځی اوهر هغه څیز چې په هغه باندی عدم راځی حادث اوپیدا کړی شوی دي حُکه چې قدیم حُای دحوادثو نه دی، نومعلومه شوه چې عالم (تول - موجودات غیر دخدای رج، څخه) حادث اوپیدا کړی شوی دی اومُحدَث (پیدا کړی شوی) لپاره مُحدِث (پیدا کوونکی) لازم اوضروری دی اوهغه ذات دالله جل جلاله دي، په دی دلیل چې تول پیدا شوی اشیأ ممکن دی اوممکن هغه دی چې دهغه وجود اوعدم برابر وی ترڅو چې سبب دترجیح دیو دد ی دواړو موجود نه شی.

همدارنګه مخلوق - دخالق په وجود باندی اومصنوع دصانع په وجود باندی دلیل دی خلص داچې په هرشی کې دپاک خدای رج، لپاره داسی نښې شته کومه چې دالله رج، په وجود او وحدانیت باندی دلالت کوی[1].

---

(1) :- وفی کل شیئ له ایة - تدل علی انّه واحِدٌ.

د الله جل جلاله په وحدانیت باندی نقلی دلائل.

۱ـ وَاِلٰهُکُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ج لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ ٥ سورهٔ بقره آیه ۱۶۳

او معبود ستاسی معبود یودی، نشته بل څوک لایق د عبادت مگر همدی خو امهربان پوره رحم کوونکی دی.

۲:- شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَالْمَلٰٓئِکَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ ط

شاهدی اداء کړی ده الله په دی شان چې بیشکه نشته هیڅ معبود مگر همدی دی او شاهدی اداء کړی ده پرښتو او خاوندانو د علم په داسی حال کې چې خدای تدبیر کوونکی د عالم دی په عدل سره.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ٥ سورهٔ آل عمران آیه (۱۸)

نشته هیڅ معبود مگر همدی دی غالب د حکمت خاوند دی.

۳:- لَوْ کَانَ فِیْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ج ٥ سورهٔ انبیآ آیه (۲۲)

که چیرته په آسمانونو او ځمکه کې د الله جل جلاله نه پرته نور خدایان وای نو خامخا به د آسمانونو او ځمکې نظم خراب او فاسد شوی وای.

٤:- قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ٥ سورهٔ اخلاص آیه (۱)

وایه (ای محمده !) خدای یودی.

د پورتنیو آیاتو څخه ثابتیږی چې الله جل جلاله یودی هیڅ شریک او مثل نه لری او یوازی همدغه ذات حقیقی معبود دی هر یوه پانه او دکاینات ذره پدی

باندی شاهدی ورکوی چې هیڅ څوک غیر د رب العلمین څخه د عبادت لایق نشته مشرکان هم د زړه له کومې داخبره منې چې هیڅ علمی اصول د دوی د مشرکانه عقاید و تائید نشی کولای د غه راز په حدیث شریف کې د الله ﷻ د وحدانیت په باره کې د حضرت جابر[1] (رض) څخه روایت دی چې وویل حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم: دوه شیان دی چې واجب کوونکی دي خپل جزالره یوسړی وویل یارسول الله! هغه دوه شیان چې واجبوونکی دی خپل جزالره کوم دی؟

پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر هغه څوک چې مړشی په داسی حالت کې چې د خدای ﷻ سره کوم شی شریک ونګرځوی په دوزخ کې داخلیږی، او هر هغه څوک چې مړشی په داسی حالت کې چې د خدای تعالیٰ سره هیڅ شی نه شریکوی نو په جنت کې داخلیږی. یعنی هر هغه څوک چې د خدای تعالیٰ په وحدانیت باندی عقیده ونلری نو همیشه به په دوزخ کې پاتی کیږی او هر هغه څوک چې د خدای تعالیٰ په وحدانیت باندی عقیده او د آنحضرت صلی الله علیه وسلم په رسالت باندی ایمان ولری نو په جنت کې داخلیږی.

---

(۱) :- عن جابر رضی الله تعالیٰ عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ثنتان موجبتان قال رجل یارسول الله ما الموجبتان قال من مات یشرک با لله شیئًا دخل النار ومن مات ولا یشرک با لله شیئًا دخل الجنة. رواه مسلم

❊ دالله جل جلاله په وحدانیت باندی عقلی دلائل ❊

الله جل جلاله یگانه ذات اوبرحق معبود دی.

اوعبارت دکامل اوانتهائی تذلل (عاجزی) څخه عبارت دی اوکامله عاجزی یوازی دهغه ذات په حضور کې مناسب دی چې دهغه دشان سره سمه ښائی. یعنی دالله جل جلاله پاک ذات، دخدای تعالیٰ ذات باید په قطعی اوحتمی ډول سره له هر راز عیب اونقص څخه پاک اومبرّی وی، هیڅ قسم قصور اوفتور وونلری نه عاجز وی اونه مغلوب، نه دچا دفشار لاندی راځی اونه هم دده په کارکې څوک مانع ګرځیدای شی.

نوفرض کړی چې که په آسمان اوځمکه کې دوه خدایان وای البته دواړه باید یو ډول شان اولیاقت ولری اویولږ بل څخه توپیر اوتفاوت ونه لری په دی وخت کې بر طبعًا یا دعالم خلق اوتدبیر دواړو دموافقی سره سم عملی کیده اویا داچې کله کله دوی ترمنځ کوم اختلاف هم پیښیدای شی داتفاق په صورت کې دری احتمالونه متصورږدی: یا داچې یو دوی نه یوازی ددی کارلپاره عهدی څخه وتلای نه شوای نو په نتیجه کې دواړه په ګډه دچار وپرانتظام بوخت شول نومعلومه شوه چې یوهم دواړو څخه کامل قدرت نه لری اوکه یوه یوازی دعالم اونړۍ چاری په کلی ډول سرته رسولای شوای نو طبعًا بل محض بیکاره پاتی کیده اوداالوهیت دشان سره منافی ده اوکه چیری هر یو دوی نه یوائی دعالم خلق اوتدبیر کولای شوای لماد واړو داکار په اتفاق اوتحاد

سره سر تر رسولای وای په دی صورت کې د اختلاف امکان موجود وو او د اختلاف
امکان هم د الوهیت د شان لپاره نقص دي نو له دی وجهی نر باید د الله جل جلاله
د ذات په وحدانیت او د ده په کامل قدرت ایمان راوړو.

او که دوو خدایانو ترمنځ مخالفت فرض کړو نو خامخا د مقابلی په صورت
کې به یو مغلوب او مقهور کیږی او خپله اراده به په ټیږدی نو دا کار د هغه د خدائی
نفی راولی او کې یا د واړه د قوت او طاقت له امله د برابر او متساوی نو هر و مرو به هریو خپله
اراده او قدرت تطبیق کړي وای نو د آسمان او ځمکی نظام یا به له لومړنۍ ورځې څخه
یا ورو سته د هغې نه ویجاړ شوی وای، نو ثابته شوه چې الله جل جلاله واحد او لا
شریک دي او د ده د واحد ذات له عبادت او بندګی څخه غیر، د بندګانو لپاره
بله چاره د کامیابۍ نشته.



ګمرین

۱ :- دالله جل جلاله د وحدانیت داثبات لپاره کومو آیت په یاد وی وی لولی اوترجمه یی کړئ.

۲ :- دالله ج د وحدانیت داثبات لپاره خو آیتونه چې تاسی لوستلی قرائت یې کړئ .

۳ :- دالله ج د وحدانیت په باره کې یو حدیث شریف بیان کړئ .

٤ - دالله ج، د وحدانیت داثبات لپاره کوم عقلی دلیل په یاد لری بیان یې کړئ.

د الله جل جلاله صفات

د الله جل جلاله صفتونه په دوه ډوله دي:

۱:- د الله جل جلاله ذاتی صفتونه.

۲:- د الله جل جلاله فعلی صفتونه.

د الله جل جلاله ذاتی صفتونه.

د الله ج ذاتی صفتونه هغه صفتونه دی چې د الله جل جلاله د پاره ثابت وی او الله ج د هغه په ضد او نقیض نه موصوفیږی بلکه قدرت چې د هغه ضد عجز دی.

د الله جل جلاله ذاتی صفتونه اوه دی چې په لاندی ډول سره بیانیږی:

(۱) - حیات

(۲) - قدرت

(۳) - علم

(٤) - کلام

(۵) - سمع

(٦) - بصر

(۷) - اراده

۱:- حیات: حیات د الله جل جلاله ازلی او ذاتی صفت دی چې د الله ج د پاره ثابت دي او د هغه په ضد چې ممات (مرګ) دی نه موصوفیږی او په الله جل جلاله

هیڅکله مرګ او فنا نه راځی لکه چې فرمایلی یې دی :

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ۚ (۱)

ترجمه :- الله ، نشته هیڅ معبود غیر له هغه څوک ندی ، تدبیر کوونکی دعالم

(۲) :- قدرت :- قدرت د الله جل جلاله دازلی او ذاتی صفاتو څخه یو صفت دی چې د الله "ج" دیاره ثابت دی او د هغه په ضد چې عجز دی نه موصوفیږی .

هستی او نیستی د ټولو کائناتو د خدای تعالی په قدرت پوری اړه لری او په عالم کې هیڅ شی د الله جل جلاله د قدرت د دائرې نه د باندی نه دی او دده په مقابل کې هیڅ یو قوت مقاومت نشی کولای لکه چې فرمایلی یې دی :

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعْجِزَهٗ مِنْ شَیْءٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ ط اِنَّهٗ كَانَ عَلِيْمًا قَدِيْرًا ۝ (۲) او د هیڅکله نه دی خدای چې عاجز یې کړی کوم شی په آسمانونو کې او نه په ځمکه کې هر آینه خدای دانا او توانا دی .

(۳) :- علم :- د الله جل جلاله دازلی او ذاتی صفتو څخه یو صفت علم دی چې د الله جل جلاله دیاره ثابت دی او د هغه په ضد چې جهل دی نه موصوفیږی .

د الله جل جلاله علم قدیم او پر ټولو شیانو باندی یې احاطه کړیده ، او او یو ذره هم په آسمانونو او ځمکه کې د پاک خدای له علم نه خارج نه ده لکه چې الله "ج" فرمایلی دی :

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ

---

(۱) :- سورۀ بقره آیه (۲۵۵) :- (۲) :- سورۀ فاطر آیه (٤٤)

وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ۝ (۱)

ترجمه : ندی محمد پلار دهیڅ یوتن له سړیو ستاسی ولیکن پیغمبر دخدای او مهر د پیغمبرانو دی اودی خدای په هرڅیز باندی ښه عالم .

٤ : کلام (خبری کول) :- الله جل جلاله متکلم دی پخپل ازلی او قدیم کلام سره لکه چې فرمایلی یې دی :

وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا ۝ (۲)

ترجمه : اووی کړی خدای د موسی سره خبری .

کلام د خدای تعالی یو ازلی او ذاتی صفت دی چې دالله جل جلاله د پاره ثابت او دهغه پر ضد چې ګونګوالی دی نه موصوفیږی ، دده کلام د مخلوقاتو د کلام پر څیز ندی ځکه چې هغوی د آلاتو او حروفو پواسطه خبری کوی او الله تعالی بی د آلاتو او حروفو څخه متکلم (خبری کوونکی) دی .

٥ : سمع (اوریدل) :- سمع د الله ج . ازلی او ذاتی صفا تو څخه یو صفت دی چې د الله ج . د پاره ثابت دی او دهغه پر ضد چې کوونوالی دی نه موصوفیږی . خدای تعالی ټول اصوات او کلمی په خپله قدیمی سمعی سره اوری او هیڅ مسموع دده د سمعی څخه نشی غائب یدلی لکه چې فرمایلی یې دی :

---

(۱) :- سورهٔ احزاب (۴۰)

(۲) :- سورهٔ نسأ آیه (۱٤٦)

وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝ (۱) ترجمه: (او الله ښه اوريدونکی ښه عالم دی)

۶:- بصر (بينائي) :- بصر د الله ج دازلی او ذاتی صفا تو څخه يو صفت دی چې د خدای تعالیٰ د پاره ثابت دی او د هغه په ضد چې نابينايي او روندوالی دی نه موصوفيږی.

الله ج تول شکلونه او رنګونه وينی او هيڅ شی د مبصراتو څخه د الله جل جلاله د بصر څخه غائب دی. لکه چې فرمايلی يې دی.

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝ (۲) الله ج هغه ذات دی چې پيدا يې کړی تاسی پس بعضی له تاسی نه کافر او بعضی له تاسی نه مؤمن دی او خدای ج د هغه څه چې تاسی ئې کوی ښه ليدونکی دی.

۷: اراده :- د الله ج دازلی او ذاتی صفا تو څخه يو صفت اراده ده چې د الله ج د پاره ثابته ده او د هغه په ضد چې بې اختياری ده نه موصوفيږی.

هر هغه شی چې خدای ج ئې وغواړی پيدا کوی يې او هغه شی چې ونه غواړی معدوم او نابود وی ئې.

د دنيا او آخرت تول امور د الله ج د ارادی پوری تعلق لری او هيڅ شی د الله د ارادی څخه پرته نشی موجود يدلای لکه چې فرمائی.

---

(۱): سورهٔ نور آيه (۲۱)

(۲) :- سورهٔ التغابن آيه (۲)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الحمد لله الذی هدانا الی طریق السُّنة والجماعة والصلاةُ و السلام علی رسوله محمدنِ الذی کان بالمؤمنین رحیمًا وعلی اله و اصحابه اجمعین اما بعد .

یَاۤاَیُّهَا النَّاسُ اعۡبُدُوۡا رَبَّکُمُ الَّذِیۡ خَلَقَکُمۡ وَالَّذِیۡنَ مِنۡ قَبۡلِکُمۡ لَعَلَّکُمۡ تَتَّقُوۡنَ ۙ سورهٔ بقره ایه (۲۱)

ترجمه: ای خلقو اعبادت وکړئ درب خپل هغه رب چې پیدا کړي یې تاسي او (پیدا کړي یې دي) هغه کسان چې وو پخوا له تاسي څخه تر څو چې تاسی وویریږی ـ (دالله ج څخه)

دعقاید دعلم تعریف

عقاید دعقیدي جمع ده اوعقیده په لغت کې دباور کولو په معنیٰ ده .

اوپه اصطلاح کې داسي یوعلم دي چې په هغه کې دالله جل جلاله دذات اوصفاتو اودهغه شي نه چې الله جل جلاله په ذات اوصفاتو پوري اړه لري دشرعی سره موافق بحث کیږي .

إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ۝ (۱)

هر آینه د خدای حکم دادی، هر کله چې د کوم شي پیدا کول وغواړي نو وایي

دهغه د پاره چې موجود شه، نو موجودیږي.

---

(۱) :- سورهٔ یٰس آیه (۸۲)

دالله جل جلاله فعلی صفتونه .

دالله "ج" فعلی صفتونو څخه صفتونه دی چې دالله (ج) لپاره ثابت دی او دهغه په ضد سره هم موصوفیږی . لکه احیاً (ژوندکول) چې دهغه ضد اماتت (مړکول) دی .

دالله (ج) بعضی فعلی صفات : تخلیق ، ترزیق ، اعزاز ، اذلال انشاً او ابداع دی .

تخلیق :- تخلیق عبارت دی د پیدا کولو شی نه وړاندې نه وسته د نشتوالی دهغه نه ، برابره ده چې مثل سابق ولري اوکه نه ، او انشاً هم په همدغه معنی سره ده .

تخلیق دالله (ج) دفعلی صفتونو څخه یو صفت دی چې د خدای تعالی لپاره ثابت او خدای تعالی دهغه په ضد سره هم موصوفیږی ، لکه چې ویل کیږی الله (ج) احمد ته زوی ورکړ او محمود تربې وړنکړ .

خدای تعالی د ټول عالم - پیدا کړی دی او هرڅه چې وغواړی پیدا کولی یې شی . خدای تعالی پیدا کوونکی د ځمکې ، آسمان ، انس ، جن ، جنت ، دوزخ او د ټولو

مخلوقات دی لکه چې فرمایلی یې دی.

وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۝ (۱)

ترجمه:- اوپیدا کړی دی (الله) هر شی او دی په هر شی باندې دانادي.

وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ ۝ (۲)

ترجمه:- اودې هغه ذات دي چې پیدا کړي یې تاسی دیوشخص څخه.

ترزیق:- ترزیق عبارت دی د رزق ورکولو څخه.

دالله دفعلی صفاتو څخه یو صفت ترزیق دي چې دالله جل جلاله دپاره ثابت دی اوخدای پاک دهغه په ضد چې عدم ترزیق دی هم موصوف ښی.

مثلاً ویل کیږی چې خدای پاک سلیم ترزوی ورکړه اوظریف ترې ورنکړه الله ﷻ روزی ورکوونکی دهر ذی روح دی البته ځینو ته بالواسطه اوځینو ته بې له واسطې نه روزی ورکوی لکه چې فرمایلی یې دي

وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا ۝ (۳)

ترجمه: اونشته هیڅ خوځیدونکی په ځمکه کې مګر په خدای دی روزی دهغه.

احیاء (ژوندکول): احیاء دالله (ج) دفعلی صفاتو څخه دی چې دالله (ج) دپاره ثابت دی، اوخدای تعالیٰ دهغه په ضد سره چې اماتت (مړکول) دی هم موصوف ښی لکه چې فرمایلی یې دی: فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ۝ (۴)

ترجمه: پس ژوندی یې کړي تاسی بیا به مړه کوی تاسی.

---

(۱):- سورهٔ انعام آیه (۱۰۲) :(۲) سورهٔ انعام آیه ۹۹ ؛ (۳):- سورهٔ هود آیه ۶ ؛ (۴) سورهٔ بقره آیه ۲۸

اعزاز (عزت ورکول) :- دالله (ج) دفعلی صفاتو څخه یو صفت اعزاز دی چې دخدای تعالی د پاره ثابت دی او الله تعالی دهغه په ضد سره چې اذلال دی هم موصوف ښی.

الله تعالیٰ دا سلام مجاهدینو ته عزت ورکړی دی او دا سلام دښمنانو ته یې لکه روسیان، خلقیانو، پرچمیانو او داسی نورو ملحدانو ته ذلت پرې څخه کړیدی، دتولو عزتونو او سلطنتونو اصلی مالک او خاوند خدای تعالیٰ دی لکه چې فرمایلی یې دی:

قُلِ اللّٰهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ط اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ٥ (۱)

ترجمه:- ووایه (ای محمده!) - ای خدایه ای خاونده دبادشاهی! ورکوی بادشاهی هر هغه چاته چې وی یې غواړی، او بیرته یې اخلی بادشاهی له هغه چا نه چې وی یې غواړی عزت ورکوی هغه چا ته چې ته وغواړی او ذلت ورکوی هغه چا ته چې وئی غواړی، (هر از) خیر ستا په لاس او واک کې دی هر آینه ته پر هر څیز باندی قادر او توانائی.

ابداع :- ابداع عبارت دی دنوی څیز د پیدا کولو څخه چې په مخکینۍ زمانو کې مثل ونه لری.

دالله (ج) دفعلی صفاتو څخه یو صفت ابداع دی چې دالله (ج) د پاره ثابت

---

(۱) :- سورهٔ آل عمران آیه ۲۵

دی لکہ چې اللہ جل جلالہ فرمایلی دی

بَدِيعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط (۱)

ترجمہ:- بې لہ نمونې پیدا کوونکی د اسمانونو او ځمکې دی.

---

(۱):- سورہ بقرہ آیه ۱۱۷

تمرین

(۱):- د خدای تعالیٰ فعلی صفتونه تعریف کړئ.

(۲):- د خدای تعالیٰ د دری فعلی صفتونو نومونه راوښئ.

(۳):- تخلیق تعریف او تشریح کړئ.

(٤):- تړیق تعریف کړئ او د هغه به ماده کې یو آیت راوړئ او ترجمه یې کړئ.

(۵):- ابداع تعریف او تشریح کړئ.

د الله جَلَّ جَلَالُهٗ کتابونه

پر هر مکلف باندی شرعاً لازم دی :

چې ایمان ولري پر دی باندی چې الله جل جلاله د بشر د لارښوونې د پاره پخپلو رسولانو باندی کتابونه نازل کړیدی، چې تول یې حق او د خدای تعالیٰ کلام دی. امر، نهی، وعد، وعید او قصص یې پکې بیان کړیدی، د دی کتابونو تول مطالب حق، دی، د دروغو او خطا څخه پاک او تولی لارښوونې او هدایات یې عین حکمت او د بشر د دنیا او آخرت د سعادت ضامن دی، لکه چې الله جل جلاله فرمایلی دی.

لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ج ٥ (۱)

ترجمه :- په تحقیق سره لیږلی دی مونږ رسولان په ښکاره نښو سره او نازل کړی دی مونږ له هغوی سره کتاب او تله، ترڅو چې عمل وکړي خلق په انصاف باندی.

الله (ج) کتابونه له دی سببه نازل کړی دی چې ترڅو خلک په عقاید و، اخلاقو او اعمالو کې مستقیماً د عدل او انصاف پر لاره لاړشي او افراط او تفریط څخه ځان وژغوري.

تول آسمانی کتابونه او صحیفې چې الله (ج) لخوا نه پر پیغمبرانو (ع) باندی د حضرت جبرئیل امین (ع) په واسطه نازل شویدی تول حق او رښتیا

---

(۱) سورهٔ الحدید آیه ۲۵

دی چې مجموعه یې یوسل اوخلور (۱۰۴) دی، چې دهغې دجملې څخه څلور مشهور کتابونه اوسل صحیفې دی.

څلور مشهور کتابونه عبارت دی له تورات، زبور، انجیل او قرآن څخه

تورات په حضرت موسیٰ علیه السلام.

زبور په حضرت داؤد علیه السلام.

انجیل په حضرت عیسیٰ علیه السلام.

او قرآن کریم په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوی دی.

اوسل صحیفې په لاندې دول پر پیغمبرانو علیهم السلام باندې نازلې شوې دی:

لس (۱۰) صحیفې پر حضرت آدم علیه السلام، پنځوس (۵۰) صحیفې پر حضرت شیث علیه السلام، دیرش (۳۰) صحیفې پر حضرت ادریس علیه السلام اولس (۱۰) صحیفې پر حضرت ابراهیم علیه السلام باندې نازل شوې دی.

ایمان او باور لرل دخدای تعالیٰ پر ټولو صحیفو او کتابونو باندې بې له کوم فرق څخه ضروري اولازمي دی لکه چې الله (ج) فرمایلي دی:

قُولُوٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَمَآ اُوْتِيَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۖ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ۝ (۲)

---

(۱):- نبراس ص ۷۹-۸۰ : (۲):- سورۂ بقرہ آیه ۱۳۶

ترجمه :- ووایی مونږ ایمان راوړیدی - پرخدای او پرهغه شی چې رالیږل شوی دی مونږ تر اوهغه شی چې نازل شوی دی ابراهیم او اسمٰعیل او اسحاق او یعقوب او اولاد د یعقوب ته . او پرهغه شی چې ورکړی شوی دی موسیٰ او عیسیٰ ته او پرهغه شی چې ورکړی دی نورو پیغمبرانو ته د دوی د پروردګار لخوا . تفریق نه کوو په منځ کې د هیڅ یوه له دوی څخه او مونږ خپل پروردګار ته منقادیو .

مونږ پر ټولو پیغمبرانو او آسمانی کتابونو باندی ایمان لرو او ټول حق او رښتیا ګڼو ، په خلاف د اهل کتابو چې هغوی د خپل دین څخه پرته نور ټول ادیان دروغ ګڼي او حال دا چې د هغوی دین منسوخ شوی دی ځکه د اسلام مقدس دین د ټولو ادیانو او قرآن کریم د ټولو آسمانی کتابونو ناسخ دی ، او تر قیامته پورې به عمل پرې وي - په همدغه عظیم الشان کتاب باندی کیږي .

تمرین

(۱):- د خدای تعالیٰ په کتابونو باندې څه قسم ایمان راوړل لازم دی؟

(۲): - الله تعالیٰ په خپلو کتابونو کې څه شی بیان کړی دی؟

(۳): - الله تعالیٰ خپل کتابونه څو پاڼه نازل کړی دی؟

(٤): - په حضرت ابراهیم علیه السلام باندې څو صحیفې نازلې شوې دی؟

(۵): - د خدای تعالیٰ په ټولو کتابونو باندې بې له کوم فرق نه ایمان او عقیده کول د کوم آیت نه ثابت شوی دی.

توحید

توحید په لغت کې عبارت دي د حُکم کولو څخه دشی په یو والی او اوعلم لرل دي دهغه په یو والي باندي. اوپه اصطلاح کې د الله جل جلاله په یو والي باندي په زړه کې یقین اوپه هغه باندي په ژبه اقرار کول دي.

او یا د الله جل جلاله د ذات[1] په مجرد والي باندې یقین کول دي دتولو هغو شیانو څخه چې به تصور، خیال، فهم او وهم کې راځي لکه چې سعدي شیرازي رح ویلي دي

ای برتر از قیاس و خیال و گمان و وهم
وز هرچه گفته اند و شنیدیم و خوانده ایم
دفتر تمام گشت و به پایان رسید عمر
ما همچنان در اول وصف تو مانده ایم

اوځني علماء د توحید تعریف داسي کوي: اِفرادُ العَابِدِ المَعبُودَ بالعِبَادَةِ (داچې عابد یو ازي خپل معبود د عبادت مستحق وبولی).

او د الله جل جلاله د واحد والي معنی داده چې خدای تعالی په خپل ذات او صفاتو کې شریک، نظیر او مثل نه لري.

الله ج. ټول انبیاء علیهم السلام د حق توحید د تعلیم او تبلیغ لپاره استولي

---

(۱) ابو المنتهی ص۵

د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د رسالت عمومیت

د آنحضرت صلی الله علیه وسلم رسالت یوازې په عربو او یا په بل کوم قوم پورې اختصاص نه لري بلکه آنحضرت صلی الله علیه وسلم د قرآنې صریحو آیاتو له مخې انس او جن ته مبعوث شوې دی او ده د شریعت اطاعت او پیروي پر هغوی تولو باندې لازمه ده لکه چې فرمایلي یې دي:

وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ ط (۱)

او وحي کړه شوې ده ماته د غږ قرآن لپاره د دې چې ووېروم تاسي په دې سره او هغه څوک هم چې قرآن ورته ورسیږي.

نو دې مبارک آیت څخه معلومه شوه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم رسالت د انسانانو او جنیانو تولو لپاره دی حکه چې د دوی تولو ترقرآنکریم رسیدلی دی.

او همدارنګه خدای تعالی خپل پیغمبر (ص) ته فرمایلي دي: (۲)

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ

ترجمه:- او نه یې لیږلی مونږ ته مګر د تولو خلقو لپاره زیرې ورکوونکی او ویرونکی ولیکن ډیر خلق نه پوهیږي.

ستاله بعثت نه غرض دا دی چې د تولې نړۍ او سیدونکی د دوی د نبوا و بدو

---

(۱):- سورۀ انعام آیه ۱۹ : (۲) سورۀ سبا آیه ۲۸

چاروپه عواقبو وپوهوی، عاقلان اوهو نبیاران چې په خپله کتله اوتاوان
پوهیږی ستاخبره هرومرومنی، څرنګه چې دنا پوهانو شمیر په دنیا کی
ډیر دی دوی فکر دا ګنجایش نرلری چې ستا دګتو رو خبرو په
قدر اوقیمت وپوهیږی.

قرآنکریم دالله ﷻ کلام دی

قرآنکریم هغه کتاب دی چې دالله تعالیٰ لخوانه د حضرت جبرئیل علیه السلام په واسطه پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل شویدي. په مصاحفو کې لیکل شوي دي او په زړونو کې حفظ او په ژبو سره لوستل شوی، او بې له شکه او شبهې څخه د تواتر په طریقه موږ ته رسیدلی دی.

قرآنکریم د لوح محفوظ څخه د دنیا آسمان ته د قدر په شپه د رمضان المبارک په میاشت کې جمعتاً په یوځل نازل شوی دی. دهغه نزول وروسته د ضرورت او حوادثو سره سم د خدای تعالیٰ په امر د درویشت (۲۳) کلونو په موده کې، لږ لږ پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې د حضرت جبرئیل امین علیه السلام په واسطه د دنیا د آسمان څخه نازل شو، او دهغه ابتدائی نزول هم په همدغه شپه کې وو، د قرآنکریم تول آیتونه شپږ زره او شپږ سوه او شپیته آیتونه دی.

دالله جل جلاله کلام په دوه قسمه دی.

الف : نفسی کلام . ب :- لفظی کلام .

الف :- نفسی کلام :

نفسی کلام عبارت دی د خدای تعالیٰ د کلام څخه چې د هغه قدیم صفت او بې د حرف او صوت څخه دی.

ب :لفظی کلام :-

لفظی کلام عبارت د هغه کلام څخه دی چې پر رسولانو باندې نازل شوی او د حرف او صوت الرونکی دی .

لفظی منزل کتاب په هغه قدیم کلام باندې دلالت کوی کوم چې د الله ج نفسی کلام دی .

نفسی کلام قدیم او غیر مخلوق دی او لفظی کلام چې موږ د هغه په مصحف کې لولو مخلوق دی امّا د ادب له مخې لفظی کلام ته هم باید مخلوق ونه وایل شی مګر د تعلیم په وخت کې د آسمانی کتابونو تول تلاوت او اکثر احکام د قرآن کریم په نزول سره منسوخ شوی دی .

تمرین

۱:- دآنحضرت صلی الله علیه وسلم درسالت عمومیت پرکوم آیت سره ثابت شوی دی ؟

۲:- دآنحضرت صلی الله علیه وسلم دبعثت څخه هدف څه دی ؟

۳:- قرآنکریم تعریف کړئ ؟

٤:- قرآنکریم پرکومه شپه اوپه کومه میاشت کې نازل شوی دی ؟

۵:- دقرآنکریم دآیتونو مجموعه وایاست

٦:- نفسی کلام تعریف کړئ

۷:- لفظی کلام تشریح کړی



قرآنکریم دآنحضرت صلی الله علیه وسلم لویه معجزه ده

معجزه خارق العاده (دعادت خلاف) امر دی چې دنبوت له مدعی نه ظاهر ېږی.

لکه دموسی علیه السلام لکړه چې دهغه څخه لوی اژدها جوړ شو او د فرعون ساحرانو توله پری او همسا گانی یې چې دمارانو په شکل او صورت سره یې ښودلی وه ښوی ټیر کړه، او د فرعون ساحران ددی معجزی په لیدو سره پر ایمان باندی مشرف وگرځیدل او وې ویل:

اٰمَنَّا بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰی ۝ (۱)

ترجمه: ایمان مو راوړی دی په رب د هارون او موسی

او لکه دحضرت عیسی علیه السلام معجزی چې مړی بریې دخدای تعالی په حکم ژوندی کول، مادرزاده بریې بینا کول او دخاورو او ختو څخه بریې مرغی جوړول.

آنحضرت صلی الله علیه وسلم بې شمیره معجزی درلودی لکه: انشقاق قمر، دآنحضرت صلی الله علیه وسلم دمبارکو گوتو څخه د اوبو جاری کیدل چې ډیرو خلقو تری وچښلی، دده صلی الله علیه وسلم په رسالت باندے

---

(۱) :- سورهٔ طٰهٰ آیه ۷۰

دوروتنو شاهدی ورکول او داسی نور.

مګر دآنحضرت صلی الله علیه وسلم دپاره لوی معجزه قرآنکریم دی حکه چې دا معجزه ترقیامته پوری پاتی کیږی، برخلاف دنورو معجزو چې هره یوه یې پرخپل وخت کې تیره شوی ده.

قرآنکریم داسی یو کلام دی چې بشر دهغه دمثل دراوړلو بلکه دهغه دیوه لنډ سورت دجوړلو څخه ددری آیتونو پراندازه چې پرفصاحت، بلاغت اخبار باالغیب او داسی نورو کې دقرآنکریم پرشان وی عاجزدی لکه چې الله جل جلاله فرمایلی دی.

فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ ۵۰ (۱)

ترجمه:- نوراوړی یوسورت دهغه پرشان.

همدارنګه الله جل جلاله پیغمبر "ص" ته بنی اسرائیلو پرسورت کې فرمایلی دی: (۲)

وایه خامخا که چیری جمع شی انسانان او پیریان پردی - چې راوړی پدشان ددی قرآن نو هیڅکله به یې راوړی پرشان ددی (قرآن) اګرکه وی ځینی ددوی له ځینی نورو سره ملاتړوونکی او مرستیالان.

بشر قادر شوی نه دی او نه توانیږی - چې دقرآنکریم مثل - حتی دقرآنکریم

---

(۱) :- سورهٔ بقره آیه ۲۳

(۲) :- قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ۵ سورهٔ الاسراء آیه ۸۸

دیوی کوچنی سورې مثل راوړې، نو دانس اوجن عاجز یدل دیوه کتاب د
راوړلو بلکه دیوه وړوکی سورت دجوړولو څخه چې په فصاحت او بلاغت او اخبار
بالغیب کې دقرآنکریم په شان وی، خصوصاً دعربو عجز چې په فصاحت او بلاغت کې
یې پوره مهارت درلودل روښانه او واضح دلیل دی پدی باندی چې قرآن عظیم الشان
دخدای (ج) کتاب او تر قیامته پورې دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم معجزه
ده، حکه بشر تر قیامته پورې دانوان هم نه لری چې دقرآنکریم په مثل یو کوچنی
سورت راوړې.

د قرآنکریم فضیلت

د قرآنکریم فضیلتونه زیات دی چې ځینې یې په لاندې ډول سره ذکر کیږي:

۱:- الله (ج)، د قرآنکریم حفاظت او ساتنه یې خپله ذمه اخستې ده، په همدغه ډول سره چې نازل شویدی بې دیو حرف او حرکت د تبدیل څخه - تولې نړۍ ته ورسیده او تر قیامته پورې هم د هر قسم تحریف څخه محفوظ دی لکه چې الله جل جلاله فرمایلی دي:

« بیشکه مونږ په خپله نازل کړیدی قرآن او (هرآینه) مونږ د ده خامخا ساتونکی یو » (۱)

او حال دا چې مخکنی کتابونه خلقو تحریف (تغیر) کړیدی دی.

۲:- د قرآنکریم قرائت دیر ثواب لري لکه چې په احادیثو کې ذکر شویدی.

---

(۱):- اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ۝ سورهٔ الحجر آیه-۹-

۳:- د قرآنکریم لفظ په داسی قسم سره دی چې هیڅوک نه دی توانیدلی او نه توانیږی چې دهغه پرشان یوکوچنی سورت جوړ کړی .

٤:- د قرآنکریم په نزول سره دنورو آسمانی کتابونو تلاوت او بعضی احکام منسوخ شوی دی .

٥:- مخکنی آسمانی کتابونه یوواړه نازل شویدی او قرآنکریم د ضرورت سره سم لږ لږ د (۲۳) کلونو په ترڅ کې نازل شوی - او دخلقو په زړونو کې یې ځای نیولی او د اسلام په دین باندی مشرف شوی دی .

٦:- د مسلمانانو بې شمیره کسانو قرآنکریم حفظ کړی او د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د عصر څخه تر دی زمانی پورې په متواتر دول رسیدلی او د قیامت تر ورځې پورې په همدغه ترتیب سره باقی پاتې کیږی او دوام لری .

۷- قرآنکریم داسی یوکتاب دی چې نه دیوه قوم او یوی طائفی پورې منحصر او نه دیوی زمانی پورې مختص دی بلکه د ټولو بشر د پاره نازل شوی او احکام یې تر قیامته پورې باقی او د تطبیق وړ دی .

اوپر دوي باندي ئې خپل کتابونه نازل کړيدي ترڅو دوي خلک د غير
الله «ج» د عبادت څخه منع او د يګانه خدای «ج» له عبادت سره يې اشنا او
امر وکړي، چې په دغه سلسله کې خدای تعالی حضرت محمد صلی الله علیه
وسلم خاتم النبيين مبعوث کړ ځولي او قرآن کريم يې پرې نازل کړي او د توحيد
تعليم يې پکښې په کامله توګه بيان او مونږ يې پر هغه باندي په ايمان راوړلو سره
مکلف کړ ځولي يو.

ايمان په دوه قسمه دي اجمالی ايمان او تفصيلی ايمان، چې مونږ يې د غه
ځای کې د هغه هر يو قسم په جلا جلا توګه بيانوو.

۱:- اجمالي ايمان.

اجمالی ايمان عبارت دي د تصديق او اقرار کولو څخه په طريقه د اجمال سره
پر هغه څه باندي چې رسول صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله له جانبه راوړي
دي، يعني د مؤمن به شيانو له تفصيل نه پرته، لکه چې ووائی (ايمان مې راوړي
په ټول هغه څه باندي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله «ج» لخوا نه
راوړي دی) او پرې يقين وکړي.

يا د «لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ» طيبه کلمه - په ژبه ووائي او په
زړه عقيده وکړي چې، د الله ذات څخه غير بل څوک لايق د عبادت نشته او
او محمد صلی الله علیه وسلم د خدای تعالی رسول دي،

او يا داچې ووائي: (اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاَسْمَائِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَ
قَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهٖ) او عقيده وکړي چې (ايمان او باور لرم په الله «ج»

تمرین

۱:۔ معجزه تعریف کړئ ۔

۲:۔ د حضرت عیسیٰ علیه السلام معجزی بیان کړئ ۔

۳:۔ قرآنکریم ولی د آنحضرت صلی الله علیه وسلم لوی معجزه ده؟

٤:۔ د قرآنکریم فضیلتونه بیان کړئ ۔

د حضرت محمد صلی اللہ علیہ وسلم فضیلت

حضرت محمد صلی اللہ علیہ وسلم پر تولو پیغمبرانو باندی فضیلت لری او د هغه امت هم د تولو امتونو څخه بهتر دی، د دی امت فضیلت د دوی د دین په کمال سره دی او د دوی د دین کمال د پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم د کمال په سبب سره دی.

همدارنګه تول مسلمانان پر دی باندی متفق دی چې حضرت محمد صلی اللہ علیہ وسلم افضل او بهترین د تولو پیغمبرانو (ع) دی اوله دوی څخه هیڅوهم پر دغه امر کې مخالفت نه دی کړی لکه پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم په حدیث شریف کې فرمایلی دی: په تحقیق سره اللہ (ج) فضیلت راکړی دی ما له پر نورو پیغمبرانو او فضیلت یې ورکړی دی زما امت ته پر نورو امتونو. -(۲)

همدارنګه پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلی دي: زه د قیامت په ورځ کې د خلقو سردار یم. (۳)

---

(۱) :- كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ. سورهٔ آل عمران آیه "۱۱۰"

ترجمه:- ئې تاسی بهترین د تولو امتونو چې ایستلی شوی دی د پاره د خلقو.

(۲) :- إِنَّ اللَّهَ فَضَّلَنِي عَلَى الْأَنْبِيَاءِ وَ فَضَّلَ أُمَّتِي عَلَى الْأُمَمِ "رواه الترمذي"

۳:- أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ "رواه مسلم"

او په بل حدیث کې آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی :

زه د قیامت په ورځ کې د پیغمبرانو امام اودوی خطیب اودوی د شفاعت خاوند یم ، بی له دینه چې زه فخر وکړم ۰(۱)



---

(۱) : - اذا کان یوم القیمة کنت امام النبیین وخطیبهم وصاحب شفاعتهم غیر فخر رواه الترمذی د ۱۰۴ او ۱۰۳ صفحو حدیثونه د نبراس په ص ۷۰۷ مخ کې بیان کړی شوی دی.

د مطلب خلاصه

۱:- آنحضرت صلی الله علیه وسلم رحمةً لِّلعٰلَمِین دی.

۲:- آنحضرت صلی الله علیه وسلم خاتم النبیّین دی له هغه څخه وروسته بل پیغمبر نه راليږل کیږی.

۳:- آنحضرت صلی الله علیه وسلم د انس او جن د ټولو لپاره د پیغمبر په صفت لیږل شوی دی.

٤:- د آنحضرت (ص) امامت د معراج په شپه - د ټولو پیغمبرانو لپاره په بیت المقدس کې د هغه د عمومی سیادت او عظمی امامت د نښو څخه ده.

۵:- د آنحضرت صلی الله علیه وسلم امت د ټولو امتونو څخه بهتر او افضل دی.

٦:- هغه کتاب (قرآن کریم)، چې پر آنحضرت صلی الله علیه وسلم باندی نازل شوی دی بهترین د ټولو کتابونو دی او په هغه باندی به تر قیامته پورې عمل کیږی.

تمرین

۱ :- آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم ولی پر تولو پیغمبرانو باندی فضیلت لری؟

۲ :- که مود آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم د فضیلت په بابت کې کوم حدیث په یاد وی بیان یې کړئ.

۳ :- د آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم د فضیلتونو د جملې څخه څو فضیلتونه بیان کړئ.



ایمان او اعمال صالحه

ایمان: - هغه ایمان چې الله تعالیٰ خپل بندګان پرې مکلف ګرځولي او مکافات یې د جنت دخول او د دوزخ څخه د خلاصۍ وعده فرمایلې ده د هغه څیز و ټو تصدیق او په هغوی باندې اقرار کول دی کوم چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم د الله ﷻ لرجانبه څخه راوړې لکه ایمان راوړل په خدای تعالیٰ، ملائکو، کتابونو، پیغمبرانو د قیامت په ورځ، د خیر او شر په تقدیر باندې چې د خدای تعالیٰ لخوا ندی، په فرضوالی د لمانځه، روژې، ج، زکوٰة، جهاد، او د حرمت د قتل نفس چې په ظلم سره وی حرمت د زنا..... او داسې نور.

او همدغه تصدیق او اقرار د ایمان حقیقت دی، مګر د ضرورت او جبر په وخت کې په ژبې سره اقرار کول ساقط دی نو ځکه خو ګنګ سړی ایمان یې د ژبې د اقرار څخه هم معتبر دی.

اعمال صالحه: (نیک کارونه): صالحه اعمال عبارت دی د هغو نیکو کارونو څخه چې الله تعالیٰ په هغوی سره امر کړی وی، او رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته د هغو تعلیم ورکړی وی لکه: لمونځ کول، روژه نیول، د قرآن قرائت، د مور او پلار او د استاز او نو احترام او عزت کول، د مسجد جوړول، د اسلام د مجاهدینو سره مرسته کول، د علم دین لوستل او داسې نور چې دا ټولو ته عبادت او صالحه اعمال ویل کیږي.

ایمان د عمل څخه غیر او عمل د ایمان څخه غیر دی او دلیل پر دی دادی
چې د بندې څخه په ځینې وقتونو کې عمل ساقط یږی لکه څرنګه چې د ښځې څخه د حیض
او نفاس په حالت کې لمونځ او روژه او د فقیر څخه زکوة ساقط دی نه په خلاف
د ایمان چې سقوط نه قبلوی.

تمرین

۱:- د ایمان په باره کې خپل معلومات بیان کړئ .

۲:- په ایمان کې د ژبې اقرار کوم وخت سا قطیږي ؟

۳:- اعمال صالحه تعریف کړئ

٤:- په کوم دلیل سره ایمان د عمل څخه غیر او عمل د ایمان څخه غیر دی ؟



د اسلام د دین ځنې شعائر (نښې)

شعائر د شعیرې جمع ده او شعیره د علامې او نښې په معنیٰ ده

د خدای تعالیٰ د دین شعائر او نښې عبارت دي د هغو څیزونو څخه چې د الله جل جلاله عبادت ورباندې کیږي او یا الله تعالیٰ محترم ګرځولي او بایې د احترام امر کړی وی لکه: قرآنکریم، پیغمبر، بیت الله، صفا او مروه، منی، عرفات، مسجد او نور اوداسې نور.

حضرت شاه ولی الله (رح) په حجة الله البالغه کې لیکي چې: د اسلام د دین دلویو شعائرو څخه څلور شیان دي!

قرآنکریم، پیغمبر (ص)، کعبه او لمونځ. هغه شخص د هغوی تعظیم په ځای کوي چې زړه یې د تقوی څخه ډک وی. الله (ج) فرمایلي دي:

وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللّٰهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ ۝ (۱)

ترجمه: (او هرچا چې تعظیم وکړ د شعائرو د دین د الله پس بیشکه چې دا کار د زړونو له تقوی څخه دی) یعنی د تقوی داري دلیل دی.

د الله (ج) د شعائرو تعظیم چې د شرعي سره موافق وی په شرک کې داخل نه دی بلکه کامل د الله تعالیٰ د عین توحید له آثارو څخه دی حکه چې د الله (ج) عاشق د هر هغه شي چې خدای تعالیٰ ته منسوب وی قدر او ادب کوی.

---

(۱): - سورهٔ الحج آیه (۳۲)

تمرین

۱ :- د خدای تعالیٰ د دین د شعائرو تعریف وکړئ .

۲ :- حضرت شاه ولی الله صاحب کوموځلور وشیانوته د الله ج د دین لـوی نښې ویلی دی ؟

۳ :- د الله د دین د شعائرو په باره کې که کوم آیت په یاد لرئ وئی لولئ .

لکه څرنګه چې په خپلو نومونو موسوم او پخپلو صفاتو موصوف دي، او قبول کړي
مې دهغه (ج) قول حکم وينه) ذکر شوي بيان د حنفي مذهب سره موافق دي

۲:- تفصيلي ايمان.

تفصيلي ايمان عبارت دی د ايمان راوړلو څخه په قول هغه څه باندی چې
رسول صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله لرجانبه راوړي دی په طريقه د تفصيل
سره په داسي ډول چې هر يو د مؤمن به اشياؤ څخه جلا جلا ذکر کړي او په هغه
باندي يقين او باور ولري لکه چې وائي:

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ
خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ ط.

يعنی: ايمان او باور لرم په خدای ج چې خدای تعالی موجود او واحد
لاشريک دي د کمال په قولو صفاتو موصوف او د قولو عيبونو او نواقصو
څخه پاک او مبرّی دي.

او ايمان لرم په ملائکو د خداي تعالی چې دوی قول نورانی مخلوق
او د خدای تعالی اطاعت کوونکي بندګان دي، د دوی څخه هيڅ ګناه او نافرمانی
نه صادريږي، دوی هميشه د الله ج اوامر و عملی کولو ته چمتو ولاړ دي.
او ايمان لرم په کتابونو د الله ج چې قول کتابونه د خدای تعالی حق او د هغه
ازلی کلام دی او د بشر د لارښوونې لپاره پر پيغمبرانو باندي نازل شوي دي.
او ايمان لرم د پاک خدای پر پيغمبرانو باندی چې قول پر حق دي او د دين

د کفر او شرک بیان

کفر :- کفر په لغت کې د ستر (پټولو) په معنیٰ دی او کافر هم حق پټوی او دهغه تکذیب کوی .

او په شرع کې انکار کول دی د تولو یا ځینو مؤمن به شیانو څخه، لکه چې یو شخص د قرآن کریم د یو آیت څخه انکار وکړي او د الله تعالیٰ صفات قبول نکړي یا د الله تعالیٰ څخه غیر د بل شي عبادت وکړي او داسې نور مثالونه .

شرک :- شرک په لغت کې د شریک کولو په معنیٰ دی ، او په شرع کې عبارت دی د کوم څیز د شریکولو څخه د الله تعالیٰ سره په ذات یا صفاتو کې .

شرک په دوه ډوله دی : ۱- جلی شرک . ۲- خفی شرک .

جلی شرک: جلی شرک عبارت دی له دینه چې پرته له پاک خدای نه دبل شی عبادت او بندګی وکړي او د خدای تعالی سره شریک پیدا کړي، مثلاً بت یا بل شی ته خدای ویل او هغه ته سجده کول.

لکه چې د مکی مشرکانو به د تیږی او نور و څیز و څخه د انسان صورت جوړل او هغې ته به یې سجده او د هغه عبادت به یې کول او خدای به یې ګڼل لکه څرنګه چې خدای تعالی په قرآن کریم کې فرمایلی دی:

(بیشکه چې الله نه بښنی دا چې شریک ونیولی شی له ده سره او ببښی غیر له شرکه هغه چا ته چې اراده و فرمائی او هر هغه څوک چې شریک ونیسی له الله سره نو په تحقیق افترائی کړی ګناه ډیره لویه. (۱)

د دې ول شرک بې له ایمان او توبې نه بښل کیږی او د هغه جزا د تل لپاره دوزخ دی.

خفی شرک: خفی شرک عبارت دی د ریائی طاعت کولو څخه چې دا د ول شرک کفر نه بلکه معصیت دی.

د معصیت بیان

معصیت په لغت کې د نافرمانی کولو په معنی دی، او په اصطلاح کې عبارت دی د هغه عمل کولو څخه چې په هغه کې د خدای «ج» او د رسول «ص» دا وامر و نافرمانی وی

---

(۱) اِنَّ اللّٰهَ لَا یَغْفِرُ اَنْ یُّشْرَكَ بِهٖ وَیَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ یَّشَآءُ ج وَمَنْ یُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰٓی اِثْمًا عَظِیْمًا ۝ سورهٔ نسأ آیه ۴۸

معصیت او گناه کول بنده د خدای تعالیٰ د رحمت څخه لری کوی او دده "ج"
د قهر او غضب سبب گرځی پر گناهونو کې دیره لویه گناه کفر او شرک دی چې
بې له توبې او ایمان راوړلو څخه نه بښل کیږی.

کافر او مشرک همیشه او دائم په دوزخ کې وی د دوی په حق کې دهیڅا
شفاعت نه قبلیږی لکه چې الله (ج) فرمایلی دی.

فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ ۝ سورهٔ المدثر آیه (٤٨)

ترجمه:- پس نفع به نه رسوی دوی ته شفاعت د شفاعت کوونکو.

****

****
****
****
****

تمرین

۱:- کفر تعریف کړئ .

۲:- د شرک لغوی او اصطلاحی معنیٰ بیان کړئ .

۳:- خدای تعالیٰ په قرآنکریم کی د شرک په بارہ کی څه فرمایلی دی ؟

۴:- خفی شرک تعریف کړئ .

۵:- د معصیت لغوی او اصطلاحی معنیٰ بیان کړئ .

د آنحضرت صلی الله علیه وسلم اولاد

د آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوه اولاده وه چې دهغی د جملی څخه
دری هلکان او څلور لونې وی.

د آنحضرت صلی الله علیه وسلم هلکان عبارت دی له:

حضرت قاسم، طاهر او ابراهیم څخه.

او د آنحضرت صلی الله علیه وسلم لونې عبارت دی له:

حضرت فاطمة الزهرا، رقیه، زینب او ام کلثوم څخه.

حضرت ابراهیم د حضرت ماریې قبطیې له بطن څخه وو او نور ټول د
حضرت سیدتنا خدیجة الکبری څخه دی، د آنحضرت صلی الله علیه وسلم
ټول هلکان د صغارت په حالت کې وفات شوی دی.

او د آنحضرت صلی الله علیه وسلم لونې غیر د حضرت فاطمة الزهرا
نرچې شپږ میاشتی وروسته د آنحضرت صلی الله علیه وسلم له رحلته
وفات شوی ده نور ټول دا زدواج نه وروسته د آنحضرت
صلی الله علیه وسلم په حیات کې وفات شوی دی.

جهاد

وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَآفَّةً ط سورۂ التوبہ آیہ ۳۶

ترجمہ :- اوجنګ کوئ تاسی له مشرکانو سره ټول لکه چې جنګ کوی دی له تاسی سره ټول .

عقیده لروچې جهاد د اسلام دا هسو فرائیضو څخه شمیرل کیږی . او تر قیامته پورې د کلمة الله د اعلاء او د شر ، کفر او فساد د دفعې لپاره جریان لری . او د همدغه اسلامی عقیدی پر اساس دی چې په افغانستان کې جهاد شروع شوی دی او ادامه لری .

جهاد د پیر احکام او فروعات لری چې په دی ځای کې د هغو ټول د بیانولو ګنجایش نشته نو ځکه مونږ په دی باب دلنډ و معلوماتو پیرواندی کولو سره په لاندی ډول اکتفا کوو :

د جهاد تعریف : جهاد په لغت کې د طاقت ، مشقت او کوشش کولو په معنی دی .

او د شرعی په اصطلاح کې عبارت د طاقت د صرفولو او د مشقت د تحمل نه کوم چې د کفارو سره په جنګ کې د خدای تعالی په لاره او د کلمة الله (د خدای ج د دین) د اعلاء لپاره په نفس ، مال او ژبه سره سر ته رسیږی .

لکه څرنګه چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی (جهاد وکړئ د مشرکانو سره په خپلو مالونو ، نفسونو او ژبو سره) (۱)

(۱) :- جاهدوا المشرکین باموالکم وانفسکم والسنتکم . رواه ابوداؤد النسائی والدارمی مشکوة ص ۳۳۲

دغه حدیث شریف څخه معلومیږی چې جهاد په درې ډوله دی:

الف: په مال سره جهاد

ب:- په نفس سره جهاد

ج:- په ژبه سره جهاد

الف په مال سره جهاد: په مال سره جهاد عبارت دی د خپل مال د مصرفولو څخه د جهاد په مصارفو او د هغه د وسائلو په تهیه او د مجاهدینو سره په مرسته کولو کې. په دې باره کې آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:

(هغه څوک چې د خدای (ج) په لاره کې یو غازی مجهز کړی (هغه ته د جنګ وسائل تیار او یا ورته د جهاد مصارف ورکړی) په تحقیق سره جهاد یې کړی دی.(۱)

ب: په نفس سره جهاد:

په نفس سره جهاد عبارت دی له دې څخه چې مسلمان د کفارو سره عملاً جنګ وکړی.

که چیرې په دې حالت کې ووژل شی- شهید او که سلامت پاتې راشی نو غازی دی. په دې باره کې د خدای پاک فرمایلی دی:

او هر څوک چې جنګ وکړی په لاره د الله کې پس شهید کړی شی یا غالب او بریالی شی نو زه به ورکړم ورته اجر ډیر لوی. (۲)

ج: په ژبه سره جهاد:- په ژبه سره جهاد هغه دی چې مسلمان مخصوصاً د دین عالم

---

(۱):- من جهز غازیا فی سبیل الله فقد غزا- الحدیث متفق علیه- مشکوة ص ۳۴۹

(۲):- ومن یقاتل فی سبیل الله فیقتل او یغلب فسوف نؤتیه اجرا عظیما. سورة نساء آیه ۷۴

د فکر او پوهی خاوندان ، د شعر او ادب خاوندان د جهاد فضائل د ژبی او قلم په واسطه بیان کړی ، مسلمان ایثار او فداکاری ته تشویق او د مبارزی او جهاد فی سبیل الله میدان ته ډیر وهڅوی او هم مالدار او د ثروت لرونکی مسلمانان د مجاهدینو د تجهیز د مسؤلیت او د جهاد په لاره کې د خپلو مالونو د مصرفولو څخه خبر کړی ، همدارنګه د ادب او شعر خاوندان د کفارو سره په خپلو اشعارو مقابله وکړی . (۱)

د جهاد حکم : کله چې یوازی د مسلمانانو ټولګی د دښمن د مقابلی لپاره حاضر او د هغوی سره جهاد وکړی او د اسلامی مملکت د خاوری د حفاظت او ساتنه وکړی لای شی نو جهاد فرض کفائی دی یعنی په داسی حال کی ټول مسلمانان په جهاد کولو مجبور نه دی .

مګر که چیری د دښمن په اسلامی مملکت باندی تجاوز او یرغل او د هغه ملک څخه د حملی د شر د دفع کولو د ټولو مسلمانانو لپاره د مقابلی نه پرته امکان و نه لری نو په دی صورت کې جهاد پر ټولو باندی د نفیر عام په ډول فرض حتمی ترڅو چې مرومنی سعی د خپلو خاوندانو او من یان د خپلو بادارانو د اجازی نه پرته په جهاد کې شرکت کولای شی ، او که چیری یوازی د دی مملکت مسلمانان د کفارو شر دفع کولای نه شی نو جهاد د دی مملکت د ټولو مسلمانانو افرادو نه علاوه د هغی په هم سرحدو مملکتونو باندی هم فرض عین

---

(۱) :- لکه چې آنحضرت (ص) فرمایلی دی لکانا ترمونهم به نضح النبل . رواه فی شرح السنة مشکوة ص ۴۱۰

ترجمه :- گویا چې هغه څیز (شعر) چې تاسی ولی دوی په هغه سره لکه ویشتل د غشو دی .

گرځی او که چیری هم سرحد ممالک هم عاجز وګرځی نو جهاد پرنور و مملکتونو
باندی چې دی منطقی ترتش دی وی فرض عین ګرځی او په هغه ترتیب باضرورت
سره سم جهاد دجهان پرټولو مسلمانانو باندی فرض ګرځی.



د مرګ څخه وروسته ژوندی کیدل

اَوَلَمْ یَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَلَمْ یَعْیَ بِخَلْقِهِنَّ بِقٰدِرٍ عَلٰٓی اَنْ یُّحْیِیَ الْمَوْتٰی ؕ بَلٰٓی ق (۱)

ترجمه :- آیا نه وینی (فکر نه کوی) چې بیشکه الله هغه (ذات) دی چې پیدا کړي یې دی آسمانونه او ځمکه حال دا چې نه دی ستړی شوی په پیدا کولو دهغوی کې قادر دی په دې باندې چې ژوندی کړي مړي ؟. هو (قادر دی د مړو په ژوندی کولو) .

مونږ عقیده لرو او ایمان لرو چې ژوندی کیدل پس له مرګ نه حق دی .

دا سرافیل علیه السلام د شپیلی په لومړی پوکی سره په قول د ذی روح د خدای تعالیٰ په قدرت سره هلاک کیږی ، او دا سرافیل علیه السلام په دوهم شپیلی به قول مړی بیرته د خدای تعالیٰ په حکم سره ژوندی شی .

لکه چې په دنیا کې بې له جامې اولباس څخه دهغوی نه پیدا شوی دی د قیامت په ورځ کې به هم قول خلک بې له جامې اولباس څخه د خپلو قبرونو څخه پورته کیږی ، او ملائکې به دوی دې په چالاکی او سرعت سره د حشر میدان ته بوځی ، دهر انسان سره به دوه کسان وی چې یوه یې ښوونکی به یې د محاکمې میدان ته راکاږی او بلی

---

(۱) :- سورهٔ احقاف آیه ۳۳

د تبلیغ، اوسمي لیاري ته دلارښودنې لپاره راليږل شوي دي .

اوایمان لرم په ورځ د آخرت باندي چې د دنیا د ژوند د ختمید و نه وروسته یوه ورځ راتلونکي ده چې هغه تر - د آخرت ورځ وائي د اسې ورځ چې په هغې کې د بشر د اعمالو محاسبه کیږي .

اوایمان لرم په دې باندې چې د خیر او شر اندازه ټوله د خدای تعالیٰ له جانبه څخه ده او خدای تعالیٰ دازل له ورځې څخه پر هغه باندې عالم و او دي ، او هغه یې د خپل ازلي علم سره موافق په لوح محفوظ کې لیکلي او ثبت کړې دی .

اوایمان لرم په دې باندې چې د دنیا د فنا کیدو څخه وروسته ټول خلک د آخرت په ورځ کې د بیا ژوندي کیږي او د مجازاتو او مکافاتو لپاره د حشر په میدان کې حاضریږي

نوټ :-

۱ :- په ایمان راوړلو کې د اَشْهَدُ کلمه شرط نده .

۲ :- په هر یو مسلمان باندې فرض دي چې بر سیره په عقیده او یقین باندې د - لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط مبارکه کلمه دې په ټول عمر کې یو ځلي و وائي او د پیر و یل یې زیات ثواب لري .

۳ :- اجمالي ایمان او تفصیلي ایمان پخپل اصل کې کوم فرق نلري مګر تفصیلي ایمان نسبت اجمالي ایمان ته کامل تر دي .

٤ :- اجمالي ایمان په هغر صورت کې کافي دی چې تفصیلي ایمان و نه پیژني او که نه نو تفصیلي ایمان لازم دی .

بریې عملنامه نیولی وی چې دده دژوندانه ګرد احوال اوخبری بریکی لیکل شوی وی، ددی ورځی د سختی او هیبت څخه به هر شخص دخپل ګناه پراندازه په خولو کې ډوب ـ او دخپل ځان پرغم اخته وی، دخپل خپلوانو او دوستانو لره حال څخه پوښتنه نه کوی او یوله بله څخه تښتی .

انبیأ علیهم السلام برهم دخپل ځانونو پرغم اخته وی او نفسی نفسی به وائی مګر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به په دغه ورځ کې هم دخپل امت په غم کې وی او امتی امتی به وائی او دخدای تعالی څخه به دخپل امت شفاعت غواړی، په دغه ورځ کې به دهرچا سره دخپلو اعمالو حساب کیږی د مؤمن عملنامه به پرښې لاس او د کافر عملنامه به په کین لاس کې ورکړشی، د اعمالو د حساب څخه به وروسته مومنان دخدای تعالی په فضل او مهربانی سره جنت ته داخلیږی او کافران او منافقان به دخدای تعالی په عدل سره دوزخ ته داخلیږی، مؤمنان به هیڅکله پرجنت کې او کافران به هیڅکله پردوزخ کې پاتی کیږی، مګر ګناه ګاره مؤمنان به دخدای تعالی په فضل او دانبیاؤ او صالحینو په شفاعت سره ابتدأ او یا د دوزخ د دخول څخه وروسته جنت ته داخلیږی .

دعملنامی قرائت (لوستل)

اِقْرَأْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ؕ (۱)

" ولولہ عملنامہ خپلہ بس دی هدا ځان ستانن ورځ پرتا باندی حساب کوونکی "

مونږ په دی عقیده او باور لرو چې د قیامت په ورځ کې د عملنامی قرائت حق دی، هر یوه انسان ته به خپله عمل نامه پرخپل لاس کې ورکول کیږی. مؤمن ته به ـــ پرښی لاس او کافر ته به په کین لاس، ترڅو چې خپله هغه ولولی او فیصله وکړی، چې هغه کارونه چې ده پخپل عمر کې کړی وه تول پکی شته او لیکلی شوی دی نو هر سړی به په دغه وخت کې یقین وکړی چې د هغه د عملنامی څخه دده یوه ذره عمل هم خارج پاتی شوی نه دی بلکه بې دکمولی او زیاتولی څخه تول پکی موجود دی، هرڅاته چې خپله عملنامه پرښی لاس کې ورکړشی د نجات کامیابی علامه ده نو هغه له ډیری خوښی ځنی هر سړی تر ورښکاره کوي او وائی به چې راځئ ځما عمل نامه ولولی، ما په دنیا کی یقین کاوه چې ـــوه ورځ به ضرور دخپلو اعمالو محاسبی سره ـ مخامخ کیږم نو داشخص به جنت ته داخلیږی، او هرڅاته چې خپله عمل نامه پرکین لاس کې ورکړشی نو دهغه

---

(۱) :- سورۂ الاسراء آیه ۱٤

دناکامی او بدبختی علامه ده پرهغه وخت کې به دی له دیر غمه داسی آرزو او
او تمناکوی کشکی حُما داعمل نامه نروی راکړشوی اوزه نروی پوه شوی چې
حُما حساب څرنګه دی ای کشکی چې دا دنیا مرګ حُما دقصی ختم کوونکی وای
تر څو دمړینی څخه ورسته بیا ژوندون نړیه برخه کیدای ، هیڅ ګټه ونکړه
ماته مال زما ، برباد شو حکومت زمانن می دهغو ګردوشیانو څخه هیڅ یو
شی په ستر ګونړاځی ، نه څه دلیل اوحجت زما قبلیږی او نه څه عذر اومعذرت
کولای شم نو داشخص بردوزخ ته داخلیږی .

جنت او دوزخ

جنت او دوزخ مخلوق او موجود دی نه داچې د قیامت پرو ځ کې به پیدا کیږی او دلیل پری قرآنی آیاتونه دی چې خدای تعالیٰ د جنت په صفت کې فرمایلی دی: أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ (۱) ٥ "تیار کړی شوی دی لپاره د پرهیزګارانو"

او د دوزخ په صفت کې فرمایلی دی:

أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ (۲) ٥ "تیار کړی شوی دی لپاره د کافرانو"

او قدسی حدیث دی چې خدای ﷻ فرمایلی دی:

---

(۱) :- سورهٔ آل عمران آیه ۱۳۳

(۲) :- سورهٔ بقره آیه ۲٤

تیار کړی دی د خپلو نیګو بندګانو لپاره هغه څه چې سترګو نه دی لیدلی
او نه غوږونو اوریدلی دی او نه د بشر په زړه کې یې خطور کړیدی ـ (۱)

او د معراج په حدیث کې راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم
فرمایلی دی: (۲)

داخل کړای شوم جنت ته او راته وښودل شو دوزخ "

او همدا رنګه د آدم او حوا سکونت په جنت کې او دهغې نه ددوی
وتل، دا ټول ددی بسکاره دلایل دی چې جنت او دوزخ د قیامت د ورځې نه مخکې
مخلوق او موجود دی، خدای تعالیٰ جنت او دوزخ د ثواب او عقاب لپاره پیدا کړی
دی د جنت خاوندان په جنت کې او د دوزخ خاوندان به په دوزخ کې
هیشه وی حکمه چې خدای پاک دواړو فرقو په باره کې فرمایلی دی.

هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ۝

---

(۱):- أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ. شرح فقه اکبر ملا علی قاری ص ۱۱۸

(۲):- أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ وَأُرِيتُ النَّارَ. شرح فقه اکبر ملا علی قاری ص ۱۱۸

د افغانستان د تعلیمی مرکز د نصاب
اهداف

عمومي هدف:

د ټولو جهادی تنظیمونو د تعلیمی نصاب توحید ، دیومتوازن او جامع اسلامی بنووني او روزنې منځ ته راوړل چې دهر ډول باطل پرستی او بدعتونو ضد وي . همدا رنګه د اسلامی کلی قوانینو او مفاهیمو استحکام د افغانستان په اسلامی ټولنه کښی غواړي .

خصوصي هدف:

داسې نصاب دی چې د اسلام سپاهیان او د حقیقت لارې تلونکو ته د یو والي او وحدانیت لار بنووني کوي ترڅوچې دوي په مستحکم اودایمی توګه دعالي او معقولو اسلامی سنتو او قوانینو متمسک وي .

د نصاب د اسلامی بنو و نې او سوا د « د جهادي ، فرهنګي ، فلسفی ، اقتصادي تخنیکي ، مدني . معیشتي شرایطو په نظر کې نیولو سره » ضامن دی .

چې په ټین وخت کې د نه شلیدونکي پیوستون ممثل او اتصالات د اسلامي نړۍ سره وي او د اسلامي مفکورو سره سو حقابیقو مبین وي .

آخري هدف:

د کلمة الله اوچتوالی ، د اسلام د شان او عظمت بنو د ل د نړیوالو ته ، د کفر او کمونیزم اضمحلال ، په افغانستان او نړۍ کې د سپیڅلي قرآن د اصولو او قوانینو او د محمدی (ص) غوا شریعت د حنفی فقه په اساس هاص د خدای د رضا ډ حاصلیدلو په نیت د زمانې د طاغوتیانو سره مبارزه د دې تعلیمی نصاب آخري مرام دی .

ARIC
B
6431
WA
1296

دچاپ کال‌حمل ۱۳۷۰ دچاپ شمیر (۱۰۰۰۰)

دتعلیمی مرکز دنصاب مدیریت

تمرین

۱:- که د مرګ نه وروسته ژوندی کیدلو په باره کې کوم آیت په بادلرې وئې لولی او ترجمه یې کړئ.

۲: - د قیامت پر وړځ کې خلق څرنګه له خپلو قبرونو څخه پورته کیږی؟

۳: - د عمل نامې د قرائت په باره کې خپل معلومات بیان کړئ.

٤: - آیا جنت او دوزخ موجود دی او که د قیامت پر وړځ کې پیدا کیږی؟

۵: - د جنت په باره کې قدسی حدیث بیان کړئ.

تمرین

۱:- دعقاید علم تعریف کړئ .

۲:- د توحید لغوی معنیٰ څه ده ؟

۳:- د الله ج ، د واحد والی معنیٰ څه ده ؟

٤ : د توحید اصطلاحی معنیٰ شرح کړئ .

۵:- الله ج ، پیغمبران ع ، څخه لپاره راستولی دی.

٦:- اجمالی ایمان تعریف کړئ .

۷:- آیا د لا اله الا الله محمد رسول الله طیبی کلمی ته اجمالی ایمان ویلی شو ؟

۸:- اجمالی ایمان شرح کړئ .

۹:- آیا پر ایمان راوړلو کې د اشهد کلمه شرط ده ؟

۱۰:- آیا اجمالی ایمان او تفصیلی ایمان په اصل ایمان کې کوم فرق لری ؟

۱۱:- په ټول عمر کې په مسلمان د کومی کلمی ویل یو واری فرض دی ؟

دالله جل جلاله پروجود باندی نقلی دلائل

۱:- اِنَّ فِی خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّیْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِیْ

پر تحقیق سره د آسمانونو او ځمکی پر پیدایښت او د شپی او ورځی پر اختلاف کې او هغه بیړی

تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ بِمَا یَنْفَعُ النَّاسَ وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ

چې ځی په دریاب کې په هغه سره چې ګټه رسوی خلقو ته او په هغه څه کې چې نازل کړی خدای آسمان څخه د اوبو څخه

فَاَحْیَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِیْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ وَّتَصْرِیْفِ الرِّیٰحِ

بادونو کې نوژوندی کړي یې ده په هغه سره ځمکه پس له مرګه یې او خپاره کړي یې په دې ځمکه کې هر ځوځیدونکی او په ګرځولو

وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَیْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ۝ سورۂ بقره آیه ۱۶۴

او پرام کړي شوی وریځ کې د آسمان او ځمکی ترمنځ، په تحقیق سره دلایل دی د هغه قوم لپاره چې عقل لري.

۲:- قَالَتْ رُسُلُهُمْ اَفِی اللّٰهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط ۝ سورۂ ابراهیم آیه ۱۰

وویل پیغمبرانو دوی آیا په (وجود) دالله کې شک دی (چې) پیدا کوونکی د آسمانونو او ځمکی دی؟

له پورتنو مبارکو آیاتو څخه ثابتیږی چې د بې ستنی آسمان پر پیدایښت کې په دوه ډوله لوړوالی او پراخوالی، د ځمکی پر خلقت او پیدایښت کې سره د دوه ډوله لویوالی او پراخوالی د شپی او ورځی اختلاف په لنډوالی او اوږدوالی کې، هغه بیړی چې د خلقو د فائدی دپاره په دریاب کې خوځیږی، له آسمانه څخه د باران اوریدل چې ځمکه زرغونه کوی او دهغه په وسیله د توالد او تناسل سلسله په تولو حیواناتو کې را

برسیره کیږي، د باد و نو لګیدل د مختلفو خواوو څخه، د ریځو بسکاریده اوخرګندیدنه
د ځمکې او آسمان تر منځ، لنده داچې په دې تولو شیانو کې د حکیم او توانا خدای ﷻ
په وجود باندې بسکاره دلائل دي، او د دې لوی او عظیمو آیاتو او نښو په حکمت
باندې بې د فکر او عقل له خاوندانو نه بل څوک نه پوهیږي.

د خدای تعالی په وجود او یو والی کې دیوه ویښته په اندازه شک او شبهه
نشته، د انسان فطرت د خدای تعالی په وجود شاهد دی، او هم د عالم د علویاتو
او سفلیاتو عجیبه نظام د الله جل جلاله پر موجودیت باندې شاهدی وکوي

❖ دالله ج په وجود باندی عقلی دلائل ❖

که څوک د آسمانونو، ځمکی، لمر او سپوږمی خلقت ته نظر وکړي، د حیوانانو او نباتاتو په پیدایښت کې فکر وکړي حتماً دی نتیجی ته رسیږي چې دغه ټولو لپاره یو لضرور یو خالق او پیدا کوونکی شته او هغه دالله ج، د ذات څخه عبارت دی چې موجود او پیدا کوونکی د عالم دی.

دالله ج وجود ضروری او واجب دی ځکه چې په عالم کې دوه قسمه موجودات وجود لری:

أ: اعیان:-

ب: اعراض:

د غه دواړه حادث او پیدا کړي شوی دی.

درسی کتابونه او د هغو محتویات د منل شوو تعلیمی اصولو
پر اساس تهیه او تطبیق کړی. اوس چه دلوی خدای په فضل
د لمړی دوری د کتابونو چاپ او ترتیبول پای ته رسید لی او
د خدای پاک په مرسته منځنی او دوهمه مرحله شروع شویده
بیایی هم خپله علمی دنده دیوه غوره تعلیمی پروګرام په برابر-
ولوکی چه د ټولو تعلیمی بنسټونو او علمی موازینو سره برابروی
نده هیره کړی. او دپخوا په شانئی د درسی کتابونو په برابرولو
او تدوین کی د نورو مختلفو جهادی تنظیمونو د پروګرامونو
څخه په استفادی سره زیاته پاملرنه کړیده.
د افغانستان تعلیمی مرکز خپله دنده بولی چه د نصاب مدیریت
له هغو استادانو، پوهانو او کارکونکو څخه چه دیوه اسلامی
واحد تعلیمی نصاب د منځ ته راولو په برخه کی چه له علمی
موازینو سره سمون لری له هیڅ ډول ایثار او سرښندنی څخه
ډډه نده کړی مننه او درناوی وکړی، او د دوی لا زیات
بریالیتوبونه د علم او معارف په برخه کی له پاک خدای څخه
وغواړی.
هیله لرو دهیواد راتلونکی او حُوان نسل د قدرورو مدرسینو
دعلمی لارښوونی په نتیجه کی تری زیاته ګټه واخلی، تر څو دیوه
نوی افغانستان د پاره چه یو اسلامی، خپلواک او پرمخ تللی
افغانستان به وی ربښتینی او ګټور غړی وروزل شی.

ومن الله التوفیق

د افغانستان تعلیمی مرکز

فهرست

گڼه	عنوان	مخ
۱	د عقاید د علم تعریف	۱
۲	توحید	۲
۳	اجمالی ایمان	۳
٤	تفصیلی ایمان	٤
۵	د الله «ج» په وجود نقلی دلائل	۷
٦	د الله «ج» په وجود عقلی دلائل	۹
۷	د الله «ج» په وحدانیت نقلی دلائل	۱۱
۸	د الله «ج» په وحدانیت عقلی دلائل	۱۳
۹	د الله «ج» صفات	۱٦
۱۰	د الله «ج» ذاتی صفتونه	۱٦
۱۱	د الله «ج» فعلی صفتونه	۲۱
۱۲	د الله «ج» کتابونه	۲٦
۱۳	د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د رسالت عمومیت.	۳۰
۱٤	قرآن کریم د الله «ج» کلام دی.	۳۳

گڼه	عنوان	مخ
۱۵	د آنحضرت صلی الله علیه وسلم لوی معجزه قرآن کریم دی.	۳۵
۱۶	د قرآن کریم فضیلت	۳۸
۱۷	د آنحضرت صلی الله علیه وسلم فضیلت.	۴۱
۱۸	ایمان او اعمال صالحه	۴۵
۱۹	د اسلام دین څنی شعائر (نښې)	۴۸
۲۰	د کفر او شرک بیان	۵۰
۲۱	د معصیت بیان	۵۱
۲۲	د آنحضرت صلی الله علیه وسلم اولاد	۵۴
۲۳	جهاد	۵۵
۲۴	د جهاد حکم	۵۷
۲۵	د مرګ څخه وروسته د روندی کیدل	۵۹
۲۶	د عمل نامې قرائت (لوستل)	۶۱
۲۷	جنت او دوزخ	۶۳

د افغانستان اسلامی دولت
د نښو نظامونو او رنځپوهنې ریاست

د افغانستان تعلیمی مرکز
د نصابو مدیریت

عقاید

د اوومې ټولګي لپاره

مؤلف : مولوی غلام عیسیٰ

لا إله إلا الله محمد رسول الله

عقاید شریف

داوم تولگی لـــپاړه

مؤلف: مولوی غلام عیسیٰ


بسم الله الرحمن الرحيم

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

رَبِّ زِدۡنِی عِلۡمًا

قَالَ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ

حضرت رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیلے دی.

رَضِیۡتُ

خوښ یم

بِاللّٰہِ رَبًّا

چې اللہ مورب دی.

وَبِالۡاِسۡلَامِ دِیۡنًا

او اسلام مو دین دی.

وَبِمُحَمَّدٍ نَّبِیًّا وَّرَسُوۡلًا

او محمد صلی اللہ علیہ وسلم مو رسول او نبی دی.

بسم الله الرحمٰن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ الْاِنْسَانَ وَجَعَلَهُ اَکْرَمَ الْخَلَائِقِ بِالْعِلْمِ وَالْکَرَمِ وَجَعَلَ اُمَّةَ مُحَمَّدٍ خَیْرَ الْاُمَمِ وَاَمَرَهُمْ بِالدَّعْوَةِ وَالْاِرْشَادِ وَالْجِهَادِ الْمُعَظَّمِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْاَنْبِیَاءِ وَمُعَلِّمِ الْبَشَرِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

په هیوادکی د سپیڅلی جهاد دپیل څخه راپدیخوا، استادانو، علماؤ او پوهانو، د شاگردانو د علمی اهدافودتر سره کیدو اود اسلامی فرهنگ دودی اوپراختیاد پاره په مختلفو برخوکی او دپوهی له بنیګنو څخه د بنی ګټی اخیستنی پخاطر کاکه پاملرنه کړیده، او په دی توګه ئی دمهاجرت دناخوالواوبدوشرایطو سره سره دا خبره نړیوالوته ثابته کړه چه د افغانستان غیور او قهرمان ملت وکولای شول دجهادپه تیرویووسوکلوکی دتوری او قلم مبارزی ته یو دبل ترڅنګه ادامه ورکړی. د افغانستان تعلیمی مرکز چه د مختلفو درنوجهادی تنظیمونوله پیاوړوغړو څخه تشکیل شویدی په خپلواړسره هڅه کړی ترڅو په هیوادکی دننه د مدارسو درسی پروګرامونه له ورځنیو شرایطواو علمی معیارونو سره سم ترتیب اود لمړی دوری